هغه به خپلې کورنۍ په کارونو -ورسره مرستې کولو- بوخت و، نو کله به چې د لمانځه وخت راغلی، لمانځه ته به ووت

له اسود بن یزید څخه روایت دی وایي چې: له عایشې رضي الله عنها څخه می پوښتنه وکړه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به په کور کې څه کول؟ هغې وویل: هغه به خپلې کورنۍ په کارونو -ورسره مرستې کولو- بوخت و، نو کله به چې د لمانځه وخت راغلی، لمانځه ته به ووت.

[صحیح دی] [بخاري روایت کړی دی]

د مومنانو له مور عائشې رضي الله عنها څخه په کور کې د هغه صلی الله علیه وسلم د وضعیت په اړه پوښتنه وشوه او دا چې څه به یې کول؟ هغې وویل: هغه یو انسان و، کار به یې کاوه لکه څنګه چې نور سړي په کورونو کې کار کوي، د خپل ځان او خپلې کورنۍ په چوپړ کې به و، خپله مبره به یې لوشله او خپل کالي به یې پیوندول، خپلې څپلۍ به یې پیوندولې او خپله ډولچه به یې پېوندوله، او کله به چې د لمانځه وخت راغی نو له ځنډ پرته به ووت.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6220